رحمت ربی ځیرکیار ۲۰۱٦/۰۷/۰۲

# سياسي انقلاب او ديموکراتيک سوشليزم په امريکا کې

## د ولسمشرۍ لپاره د سناتور برني سيندرس

## تګلاره

څه بنه وايي په اور سوي پتنګان
مور له شمع، شمعې اور د تيلي واخيست
چې مور پيژنو سوځوونکي د خپل ځان
تيلي اور واخيست د لاسو د انسان

ګل پاچا الفت (۱۹۰۹تر ۱۹۷۷زيز)



Sanders leaving the Vatican on Saturday [١٦ April ٢٠١٦]. He was at the Vatican for a conference on social and economic issues New york times.com[١٧ April ٢٠١٦].

سيناتور بَرني سيندرس په امريکا کې د ولسمشرۍ د نوماند (کانديد) په څير خپله تګلاره د امريکې په پخواني شخصي «جورج ټاون پوهنتون» کې علاقمندانو ته د ۲۰۱۵ په نومبر کې واوروله چې د فرانسې د انقلاب په کال ۱۷۸۹کې په واشنګټن، دي. سي. کې جوړشوی و.
په امريکا کې دسمسمکی (مساوات طلبه) ټولنې د رامينځته کولو لپاره سيناتور بَرني سيندرس د «ولسواک سوشليزم» (دموکراتيک سوشليزم) مفکوره غوره ګڼلی ده چې د سياسي انقلاب له لارې يې پالي. په خپل هيواد کې د سيندرس د سمسمکی ټولنې په رامنځته کولو باندې د شلمې او يوويشتمې پيړی د څلور شخصيتونو پريکړو او دريځونو وزرې غوړولي


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

دي: د امریکي ولسمشرانو فرانکلین دیلانو روزولت (۱۹۳۳تر۱۹۴۵) او لیندن جانسن جانسن (۱۹۶۱تر ۱۹۶۳)، په امریکا کې د افریقایي-امریکایانو د مدني حقوقو د خوځښت مشر او د بې تاوه پاڅون ستر دیني شخصیت مارتین لوتر کینګ (۱۹۲۹تر ۱۹۶۸)، او د رومَن کاتولیک عیسویانو لار ښود پاپ فرانسیس (۱۹۳۶تر اوسه)!

بـرني سیندرس د پاپ له رسمي اوسید ځای (واتیکان) نه د۲۰۱۶ د اپریل په ۱۶[۲۸حمل ۱۳۹۵] واپس ځي. سیندرس په واتیکان کې د تولیزو او سیاسي موضوع ګانو د کنفرانس لپاره هلته تللی و. ژورنالیستانو ته یې په الوتکه کې وویل چې: په سفر روان پاپ فرانسیس ورته لاس ورکړ، او سیندرس ورته خپله ارادتمندي څرګنده کړه ځکه چې پاپ «په ټوله نړۍ کې فوق العاده کارونه کوي او غواړي چې اخلاقیات دې زموږ د اقتصاد برخه وي».

“I [Pope Francis] shook his hand and nothing more,” he said. “If someone thinks that greeting someone means getting involved in politics,” he added, laughing, “I recommend that he find a psychiatrist!” But the candidate was excited to talk about his coveted souvenir. “I conveyed to him my great admiration for the extraordinary work that he is doing all over the world in demanding that morality be part of our economy,” Mr. Sanders told reporters aboard the plane…” [New York Times.com, April ١٧, ٢٠١٦].

بَرني په نیویارک ښارکې په ۱۹۴۱ کې زیږیدلی و. پلار یې ( اِیلیاس سیندرز)په پولینډ کې په ۱۹۰۴ کې زیږیدلی و او موریې(نی ګلاسبیرګ) په ۱۹۱۲کې په نیویارک ښار کې زیږیدلې وه. په دې ډول، مور او پلار یې په ترتیب سره روسي او پولینډي یهودی کډوالان وو. سیندرس د امریکې د کانګرس په تا ریخ کې د ولسي جرګې د خورا اوږدې مودې لپاره خپلواک(غیر ګوندي) غړی و. له ۲۰۰۷ زییز راهیسې سناټور دی. سیندرس خپله علمي دیګري په واګیوهنه (سیاسي علومو) کې له شیکاګو پوهنتون نه لاسته راوړې ده. په دغه پوهنتون کې د مدني حقوقو په خوځښت کې او د ځوانانو په سوشلیستي اتحاد کې فعال و. سیناټور برني سیندرس د کارګرو او بې وزلو خلکو پلوی دی او هڅه کوي چې اقتصادي نابـرابري په عدالت واړوي. سیندرس چې ځان یې ولسمشرۍ ته نوماند (کاندید) کړی دی، د ۲۰۱۵ د نومبر په ۱۹، د امریکې په «جورج ټاون پوهنتون» کې خپله مهمه وینا واوروله چې لنډیز یې په لانـدې ډول دی

په امریکا کې د سمسمکی (مساوات طلبه) ټولنې د رامنځته کولو لپاره بَرني سینـدرس د «ولسـواک سـوشلـیزم»(دموکراتیک سوشلیزم)مفکوره غوره ګڼلې ده: «هر څه دې د بیلیونیر طبقې سره نه وي. زموږ حکومت په موږ ټولو پورې تعلق لري، نـه په یوه سلنه(۱٪) پورې.» د غټ اقتصادي رکود په مهال، دموکرات ولسمشر فرینکلین دیلانو روزویلټ، د ۱۹۳۷ په جنورۍ کې په خپله پیلیزه(افتتاحي) وینا کې هغه څه وویل چې د هغه مهال د ټولنې کرغیـړنه وضعه یې انځور شوې وه. هغه نه یواځې وینا وکړه، بلکې عمل یې هم وکړ. د هغه مهال د حاکمې طبقې ( «اقـتصادي سلطـنتیانو») په وړاندې یې هـغسې پروګرامونه راوویستل چې «میلیونونو خلکو تـه یې کار پیدا کړ، له بې وزلۍ نه یې راوویستل او په حکومت یې د هغوی

اعتماد پیداکړ....ولسواکي یې غښتلې کړه او په هیواد کې یې بدلون راوست.» روزویلټ به چې د هر څه وړاندیز وکړ، «سوشلیست» به ګڼل کیده: «ټولنیزه خاطرجمعي»(دتـقاعد پروګرام) «سوشلیست» و. اقلي معاش «سوشلیست» و،د بیکارۍ بیمه «سوشلیسته» وه، د ماشومانو د کار منع کول، په اونۍ کې څلویښت ګینټې کار، دبانکونو کلک نظارت، په بانکونو کې د اینودل شوي مبلغ بیمه، د کارپروګرام ټـول په یو او بل شکل «سوشلیست» وو. اوس هم «دغو پروګرامونو زموږ د ملت او د مینځنۍ طبقې تنسته جوړه کړې ده.»

“Yet these programs have become the fabric of our nation and the foundation of the middle class.”

له دینه دیرش کالونه وروسته، په ۱۹۶۰ کالونو کي دموکرات ولسمشر لیندن جانسن(۱۹۶۱تر ۱۹۶۳) د روغتیا بیمي (میډیکیر،میډیکئیډ) د میلیونونو امریکایانو لپاره راوویستلي. په دغو حیاتي روغتیایي ښیګڼو به «محافظه کارانو» (رایټ وینګ) د سوشلیسټ ټاپه وهله او «د ژوند امریکایي طرز» ته د خطر په سترګه یې ورته کتل. خو نن سره له دې چي ټکنالوجي او تولیدي قدرت، د امریکي او په نړی واله سویه پرمختګ ستربریالیتوبونه تر لاسه کړي دي، په میلیونونو امریکایي کورنی د ژوند د بنیادي اړتیاو له پوره کولو نه محرومي دي، او په میلیونونو نور یې د دې سره لاس په ګریوان دي چي په څه ډول د خپلو کورنیو لپاره د ژوند ټیټ معیارر خوندي کړي. واقعیت د ادی چي په تیرو څلویښت کالونو کي د دې هیواد غټه منځنی طبقه په ټیټیدلو ده او اوس زموږ په سیاسي نظام باور خورا ټیټ شوی دی.
شتمن لا پسي شتمن کیږي. نړدې بل هرڅوک بې وزلی کیږي. د سیاسي فعالیت غټي کمیټي چي د بیلیونرانو له خوا تمویل کیږي، انتخابات اخلي. عادي خلک رای نه ورکوي. امریکا په یو اقتصادي او سیاسي بحران کي اخته ده. عین پخوانی سیاسي او اقتصادی حاکم نظام نه غواړي چي دغه موضوع په اغیزمن ډول د غور لاندې ونیسي. که موږ جدي یُو چي په خپل هیواد کي کلک بدلون راولو، که موږ جدي یُو چي منځنۍ پټه په پښو ودروو، که موږ جدي یُو چي خپله ولسواکي راپیاوړې کړو- موږ یو داسي سیاسي خوځښت ته اړتیا لرو چي یوځل بیا چمتو وي چي د یوې مسلطي طبقي په وړاندې ودریږي، ماتې ورکړي، هغې طبقي ته چي حرص یې زموږ ملت له مینځه وړی دی. د بیلیونرانو طبقه نشي کولی چي هرڅه ولري. زموږ حکومت زموږ د ټولو دی، نه د یوې سلنې( ۱٪).
پاپ فرانسیس زموږ پام دې ته راواړاوه چي موږ یو کلتور ته اړتیا لرو چي یواځې د پیسو په عبادت به ولاړ نه وي.... په واقیعیت کي په تیرو دیرش(۳۰) کالونو کي د شتمنۍ ستره برخه (تریلیونونه) له منځنۍ طبقي نه د یوې سلنې(۱٪) یوې لسمي برخي ته رسیدلی ده....نن په امریکا کي په میلیونونو خلک د ژوند د تامین لپاره په دوه یا درې وظیفو کي کارکوي. دغه وضعه په بل هیڅ صنعتي هیواد کي نه لیدل کیږي.

In fact, over the last ۳۰ years, there has been a massive transfer of wealth—trillions of wealth—going from the middle class to the top one-tenth of ۱ percent—a handful of people who have seen a doubling of the percentage of the wealth they own over that period. Unbelievably, and grotesquely, the top one-tenth of ۱ percent owns nearly as much wealth as the bottom ۹۰ percent.

نن په امریکا کي مینځنی پټه د ورکیدلو په حالت کي ده، د کورنیو اوسط عاید/درامد د ۱۹۹۹زیز کال په کچه ۴۱۰۰ ډالر لږ دی. د تورُم (اقتصادي پړسوب) په نظر کي نیولو سره د ۴۲ کالونو وړاندې په کچه، د نارینه کارګر عاید له ۷۰۰ ډالرو نه کم دي. تیر کال د ښځینه کارګرو عاید یو زر ډ الر کم وو د کال ۲۰۰۷ د عایدو سره په مقایسه کي....نن په امریکا کي نږدې ۴۷ میلیون امریکایان په غربت کي ژوند کوي، نږدې شل سلنې (۲۰٪) ماشومان (د ۳۶٪ افریقایي امریکایانو د ماشومانو په شمول) په غربت کي ژوند کوي. نن په امریکا کي ۲۹ ملیون امریکایان د روغتیا بیمه نلري، او له دې نه زیات په ټیټه سویه [ماته ګوډه] بیمه لري. نن په امریکا کي د ځوانانو بې کاري او ټیټ معاشه کار له ۳۵٪ جګ دی. په داسي حال کي چي د نورو هیوادونو په کچه موږ زیات خلک زندان ته اچولي دي او موږ په کال کي اتیا (۸۰) بیلیون ډالرې د خپلو هیوادوالانو په زنداني کولو لګوو. اساساً موږ نن په امریکا کي نه یواځې په عایداتو او شتمنیو کي نامساواتي لرو، بلکي د قدرت داسي جوړښت(پاوَر سترکچر) لر و چي د د غي نامساواتی ساتندوی دی.

په زییز ۱۹۴۴ کي ولسمشر روزویلټ [کانګرس ته] «د اتحاد د وضعې» په کلنۍ وینا کي «د حقوقو دوهمه اعلامیه » (سیکنډ بِل آف رایټز) وړاندې کړه. دا وینا یوه له خورا مهمو ویناګانو نه وه، خو له بدې مرغې هغسي پام ورته ونشو چې مناسب يې و. په دغه مهمه وینا کي روزویلټ داسي وویل: ,, موږ دې واقعیت ته رسیدلي یُو چې ریښتوني فردي آزادي بې له اقتصادي ډاډ او خپلواکۍ نـا شوني ده. محتاج خلک آزاد خلک نه دي.,, پـه بله وینا: ریښتوني آزادي بـاید اقتصادي ډاډ ولري. دا د روزویلټ سترګه ورتیا وه اویا (۷۰) کالونه وړاندې. دا نـن زما [بیرني سیندرس] سترګه ورتیا ده....خلک چې خپلي کورنۍ نشي مړولی، واقعاً آزاد نه دي.... مارتین لوتر کینګ [د امریکي د تورپـوټکو بې تاوه پاڅون وال مشر او دیني شخصیت] په ۱۹۶۸ کي ویلي وو چې ,,داهیواد [امریکا] د شـتـمنـو لپاره سـوشـلیـزم لري او د بې وزلو لپاره زیـړ فـردیت لري.,, د سیندرس دموکراتیک سـوشـلیزم په دې معنی دی چې: موږ باید یو داسي اقتصاد رامینځته کړو چې د ټولو لپاره کار کوي، نه یواځې د خورا شتمنو لپاره. دمو کراتیک سوشلیزم په دې معنی دی چې موږ باید اوس په امریکا کې سیاسي نظام اصلاح کړو، کوم چې نه یواځې په غټه کچه بې انصافه دی، بلکي له ډیرو اړخونو فاسد هم دی....دموکراتیک سوشلیزم زما په نظر یواځې دا معنی نه لري چې موږ باید د اقتصادي او ټولنیز عدالت ملت جوړ کړو. دغه شان دا معنی هم لري چې موږ یوه داسي ژوندۍ ولسواکي ولرو چې د یوه شخص یوې رای په اصل چلیږي [یعني انتخابات د شتمنو اشخاصو او کمپنیو د لاس لوبنی نه وي]. زه په دې باور نه یم چې حکومت دې د تولید وسایل ولري. خو زه په دې باور یم چې مینځنۍ پټه [وسط قشر] او کارکوونکي کورنۍ (چې د امریکي شتمني تولیدوي) د عادلانه معاملې وړ دي.... زه په دې باور نه یم چې [د امریکي] جګه یو سلنه(٪۱) خلک دې ځانګړې معامله [امتیاز] ولري. ما ځان د دې لپاره نه دی کاندید کړی چې زما د ولسمشرۍ وار دی، بلکي له دې امله چې زموږ ټولو وار دی چې د امید او فرصت په یو ملت کي ژوند وکړو، نه یو څو بلکي د ټولو لپاره د امید او فرصت په یو ملت کي.

برني سیندرس لیکي چې د لویدیزو قوتونو، مسلمان ملتونو، او د نورو هیوادونو لکه د روسیې یو نوی او قوي ائتلاف باید د آیزیس [دعراق اوشام اسلامي دولت] په ضد غبرګ او همغږی شي، او هغه سرحدونه دې وتړي چې اوس ورنه جنګیالان تیریږي، د ترهه ګرۍ ضد استخبارات دې د یوبل سره شریک کړي، او د ترهه ګرانو تمویلي سوړې وتړي، او د اورپکو (راډیکال) مفکورو خپرولو ته پاټک واچوي. ومو لیدل چې د برني سیندرس تګلاره د امریکي د دوه دموکرات ولمشرانو (فرانکلین دیلانو روزویلټ او لیندن جانسن)، او د دوه دیني او عدالت غوښتونکو شخصیتونو (تور پوټکي امریکایي مولوي مارتین لوتر کینګ او د لاتین امریکي د اوسنی پاپ فرانسیس) له کړاندو نه الهام اخلي.

**پای**

زما ځیرکیار په آند،مارتین لوتر کینګ د ۱۹۶۷ په اګیست کي یو بل مهم ټکي ته هم ګوته نیولي وه: «کپیټلیزم هیروي چې ژوند ټولنیز دی. او د ورورولئ پاچاهي نه د کمونیزم په تیزس/فرضیه کي شته نه د کپیټلیزم په ضد- تیزیس کي.»

ډاکتر رحمت ربی ځـیرکیار،کلیفورنیا

Political Revolution and Democratic Socialism in America
Senator Bernie Sanders' Platform
By: Dr. rer. pol. Rahmat R. Zirakyar
zirakyar۱۲۳٤@yahoo.com
۱ July ۲۰۱٦/۱۱ Chongash ۱۳۹۵